مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۱۱/۲۸

# غزل

په ګونډو درکښېدلی، ستا منزل ته رسېدلی
خوشبو اخلي روح مې ستا د زلفو ول ته رسېدلی

د زړګي په تیاره کور کې مې یو څرک رڼا خوره شوه
سترګی خیال مې تصوٌر کې ستا محل ته رسېدلی

ابدي ژندون لپاره مې د مینې لار کړه غوره
ډک د کړکې څڅه ژوند اوس تريخ اجل ته رسېدلی

لوږه تنده څه ته وايې زه په دې لا نه پوهېږم
یم په زور د خپلې مینې ستا ګوګل ته رسېدلی

پسرلیه! خزان تېر شو، د سپرلي ګلونه تومبه
که ژوندی په روغ صورت یې تور اوربل ته رسېدلی

مصطفی پسرلی
23/11/2018



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ